استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

عبدل قیوم ۲۳ جولای، ۲۰۲۲

# ۱۳۵۲د چنګابښ ۲۶ د بد مرغیو پیل وو

## سردار محمد داود خان او داود خانی له ۱۳۵۲ ــ ۱۳۵۷هـ پوري

دریمه برخه

د پاکستان د(اې، ایس، اې) حلقه د اسلا مي نهضت غاړي ته ولویده، پاکستانی (اې، ایس، اې) قاضي حسین احمد په تقلبي تجارتي پاسپورت کابل ته را واستاوه. قاضي حسین احمد ته د (اې، ایس، اې) بل مخکني جاسوس په کابل کي د یمارستورانت مینجر غلام حضرت وو. چي قاضي حسین ته د هغه ادرس ورکول سوی وو، قاضي حسین احمد کابل ته راغلی د غلام حضرت پرلاس یي په کوټه سنګي کي د ذالفقار کور په کرایه ونیوی او هلته او سېدی. پاکستاني(اې، ایس، اې) وقاضي حسین احمد ته د کابل په پوهنتون کي دالازهر د پوهنتون څخه د فارغ سو شاګردانو لیست ور کړ سوی وو، لکه : منهاج الدین ګهیځ، استاد غلام محمد نیازی، استاد برهان الدین رباني، استاد عبدالرب رسول سیاف، د کابل د پوهنتون د محصلیو نو څخه: عبدالرحیم نیازي، ګلبدین حکمتیار، حبیب الرحمن، سیف الدین او ډاکتر عمر. قاضي حسین احمد لومړی له استاد برهان الدین رباني سره ولیدل، بیا ئي په پغمان کي دغلام رباني عطیش (آتش) په کور کي د قاضي حسین احمد تر مشري لاندي خپله اوله غونډه جوړه کړه، په غونډ کي احمد شاه احمدزي، یو بل سړی چي په ترجمان مشهور وو او خپله عطیش هم برخه لرل. هم د لته وو چي د بنیاد ګرۍ پخه خښته قاضي حسین احمد کښیښنو وله او خپله بیرته ولاړی. د قاضي حسین احمد تر تګ وروسته عبدالرب رسول سیاف د حکومت له لوري بندي سوو، برهان الدین رباني وتښتېدی په پېښاور کي یې ځان قاضي حسین احمد ته ورسوی. د سردار محمد داود خان د بې ترتیبه کړونو په نتیجه کي یو شمیر نورو کسانو هم د ځان د خوندیتوب په اُمید پاکستان ته وتښتیده.پاکستاني نصرالله بابرد بنیاد ګرو لومړی مسؤل شخص

وو، نصرالله بابر له افغانستانه خپل يو بل پوخ مخکنی جاسوس مولانا فضل هادی شنواري هم ځان ته ور وغوښت چي د بنياد ګرو په تنظيم کي ورسره مرسته وکړي. مولاناشنواري هم د يوه نوکر په حيث نه د يوه افغان په حيث نصرالله بابر ته ورحاضرسو. هلته د افغان د ښمنو ذوالفقار او ضياالحق پر د سترخان دوی کښينول سوه. د ذوالفقار او ضياالحق ميلمانه، برهان الدين، احمد شاه مسعود، مولانا فضل هادي شينواري، پير سيد احمد کيلاني، صبغت الله مجد دي، مولوی محمد نبي محمدی، يونس خالص، ګلبدين، وروسته سياف هم او څه نور وه .

دا خلګ سردار محمد داود خان په لوی لاس و پاکستان ته په لاس کي ورکړه، د دې عظيمي ګناه بارد سردار محمد داود خان د اوږو څخه نسي ليري کېدای. د دې اوسني جنګ، جګړو او فساد زمينه ساز سردار محمد داود خان وو. له خارجه څخه د (اي،اس،ای)،قاضي حسين احمد په کار او زيار سره دا د اور سپرغي بل سو، او پر کابل نابکاره دولتي اداره او خپله سردار محمدداود خان دا زمينه مساعده کړل. د پښتومتل دی چي وايي :شرمښان د خدايه څه غواړې؟ جواب: باد او باران. خداي نا ترسو افغان د ښمنو ذوالفقار، ضياالحق او نصرالله بابر نو نورڅه غوښتل، هغه چي پکاريې وه هغه داودخان ورکړل. دا وه د سردارمحمد داود خان دغلط او ځان غوښتونکي سياست نتيجه چي پاکستان تر نن ورځي د هغو او د هغوی له او لادونو څخه د وسيلو او افزارو په شان دځان په ګټه او د افغان بيچاره ولس د ګټو ضد يې استعمالوي. پردی ډوډی هيڅ وخت، بيا دهميشه دپاره مفته نه ده .

پاکستان دغه نا بللي ميلمانه لومړی د افغانستان د هغه وخت د نا به کاره حکومت داودخان پرضد تبليغاتی جنګ ته، ډېر ژر ټرين او مسلحانه جګړې ته اماده (تيار) کړه. هغه وچي په امتحاني توګه يې په پنجشيرکي حمله وکړه. بيا احمدجان پهلوان او احمد شاه مسعود په شريکه سره يوه بله حمله وکړل، په ۱۳۵۴ هجري کال کي بهرام الدين باعث د خپلو پلويانو سره د بدخشان ولايت مربوط درواز ولسوالی باندي حمله وکړل. په همدغه ۱۳۵۴ هجري کال کي اخوان لمسلمين په ډيرو ولسواليو کي د حکومت ضد حملی وکړي. د بهرام الدين باعث د ملګرو څخه د بدخشان په راغ کي شپاړس نفره حکومت د حمله کونکو په توربندي او څه يې ووژل. د دې ټولو پيښو ډېر مسؤليئت د داود خان پرغاړه دی. په هيواد کي دولس په خاص ډول ښونځيو لوستونکو ځوانانو څخه د سياست د خبرو، انتقاد کولو، مظاهرو، غونډو او د نظر دور کړي حق، چا او ولي واخيستل سو؟( سردار محمد داود خان واخيستل) .

هر وخت چي يو ملت د ناچاری له مخي و يوه زور ته تسليم سوی دی، او د مستبدو ظالمو اطاعت ته يې غاړه ايښې ده هغه ملت ملامت نه دی. که چيري موقع ورته برابره سي چي کولای سي د

جابرو څخه ځان خلاص او ځان په امن کړي. نو هر وخت يې دا ډول اقدام د ستاينې وړ دي. ځکه هغه زور چې د انسان آزادی د منځه وړلای سي، د هغه زور پواسطه د ځان خلاصون او آزادی په لاس راوړل نو بيا ولي ګناه وبلل سي؟.که چيري دا خبره قبوله کړو چې دولسونو آزادی حکومتونو په زور سره پايماله ولاې سي، نو بيا دا خبره ولي را ته د تعجب وړ او بده و بريښي چې ولسونه خپل حق په زور واخلي .

پس پردې هم بايد اقرار وکړو چې دوی حق غوښتونکي هم پرحق دي. ځکه زورهغه زور دی چې ډېر جابرانو او لږ خوارانو کار ځيني اخستئ دی. او دا کم قانون دی چې ته ما وژلای سې او زه تا نه سم وژلای. په هرصورت داودخان د ځوانانو نيول، بندي کول او وژل شروع کړل، بل اړخته يې دپښتونستان مسئله را ګرمه کړه. البته د پښتونستان د قضيي د يادولو څخه د داود خان هدف زړسوي او مينه له پښتونستان او پښتنو يا د سرحد د هغې غاړي يا دې غاړي له پښتنو او پښتو سره نه وه بلکي يوه سياسي غولونکي لوبه يې کوله. دا ځکه کم وخت چې د پښتونستان د مسئلې پر سر د خبرو د پاره د سردار محمد نعيم خان په مشرئ يو هئيت پاکستان ته ولاړی.په لومړي رسمي مجلس کي چې د پاکستان لخوا د خبرو مشري ايوب خان کول. هغه ايوب خان چې په ورو ستيو کلونو کي بيا د پاکستان رئيس جمهور سو هغه په پښتو ژبه خبري شروع او ختم کړې، کله چې د افغانستان دهئيت مشر سردار محمدنعيم ته د خبرو نوبت ورسېده سردارنعيم چې پښتو زده نه وه، په فارسي يې خبري شروع کړې، آيوب خان په فارسي ژبه نه پوهيدی. نو د پاکستان رئيس جمهور آيوب خان د سردارنعيم خان خبري ورقطعه کړي، او ورته وئې ويل خبره پر پښتونستان ده. په پښتو خبري وکړه، په مقابل کي دي هم يو پښتون ناست دی.مجلس خراب سو آيوب خان خپله خبره اضافه کړه هر وخت چې مو پښتو زده کړه بيا به خبري کوو .

د افغانستان حکومت دا خبره پټه کړل. ما ته دا خبره د هغه وخت په خارجه وزارت کي يوه لوړ پوړي ديپلومات او مامور ښاغلي محمد نادر ايوبي کندهاري کړېده. نو رښتيا که د نوموړي يا شاهي کورنئ د پښتو او پښتنو سره مينه وای لومړی به يې خپله ژبه نه هيرولای ځکه مينه د هيريدونه ده، هغه څه چې هېرېږي هغه مينه نه ده.هغه شی چې نه هېرېږي هغه مينه ده.بلکي د افغان ولس پام راګرځول ځان ته يې مقصد وچې دوی هم په يو څه لګيادي. پاکستان يې تحريک کړی، افزار يې هم په لاس ورکړل. وئې نه سوای کولای يا نه يې غوښتل چې ددې هيواد د ځوانانو غوښتنو او احساساتو ته په احترام وګوري او ياهغوی ته د خبرو او سياست کولو دروازه خلاصه پرېږدي. دې

د یکتاتوري کورنۍ مسؤلیت نه منۍ د ملت د کار او زحمت شته یې د ځان، کورنۍ او خپلوانو ملکیت باله.

د یوه پاچا یا د یوه هیواد د مشر کینه او شتمني څه شي ده؟ پاک خوی، صداقت، رښتیا، زړه ورتیا، زړه سوی، مهرباني، په کار پوهه او فرمان وړونکتوب دی. په دغه پورته ذ کرسو صفتونو کي دا صفتونه لکه (پاکي، زړه ورتیا، رښتیا، زړسوی او مهرباني) د یوه مشرد شخصیت تکمیله ونکي اجزاوي دي. امیر، مشر، رئیس جمهور یا پاچا باید داسي وي چي زړه یې د نا پا یه د رباب غوندي پراخ، د حلم او زغمه څخه ډ ک او د ماغ یې دغره په شان نه لړزېدونکی وي.

سقراط چي مور یې یوه دایي وه، ده به د خپلي مور سره د کوچنیانو په زیږیدو کي مرسته کوله، ویل به یې زه د نفوسو سره مرسته کوم چي و زیږي، یعنی خلګ د پوهي لاره ونیسي او شخصیتونه ور ځیني جوړ سي. بیا هم ده پر خپلي ناپوهۍ اقرار کاوه او ویل به یې (په دې و پوهېدم چي نه پوهیږم).

اول: سردار محمد داود خان یادوم، یوه کس چي په شاهي کورنۍ کي پیدا سوی او لوی سوی وي، د ولس د خولو په ګټه را لوی سوی وي، په خپل ژوند کي د ټولو خواریو محفوظ او مصؤن پاته سوی وي، په ښو ښا دیو کي یې ژوند تېر کړی وي، په سیاست، پاچهي، حکومتوالي، امرچللو کي له کوچنیوالي څخه پوره برخمن وي، هیڅ کوم تهدید ورته متوجي نه وي نو دا سي یو کس بیا د کوم مجبوریت له مخي را پا څېږي د خپلي کورنۍ(خپلي پاچهۍ) په خلاف سلاح پورته کوي او کودتا کوي؟ " که هر پټ راز حل سي د هغه شاته بل پټ راز موجود دی ". ولي سر دار محمد داود خان یوه نوې لوبه پیل کوي؟ هیواد له بحران سره مخامخ کوي؟. حال دا چي په هیواد کي موهیواد والو له یوه اوږده سکون او تور تم وروسته تازه د دیموکراسۍ په لس کلنه دوره کي د خبرو او خپلو نظریاتو د بیان اصول تمرین کول، د چنګاښ د (۲۶) نېټي کودتا یا سردار محمد داود خان د خپلي کیني له مخي د روشنفکرو په منځ کي هغه ټولي را غوړیدلي هیلي او ارزوګاني په خپلو امرونو او فرمانو سره وچي کړې .دی یو عقده کښنه انسان وو نیول، وژل، وژل او فرار کېدل را شروع سول .

دوهم: کاندید اکاډېمسن محمدابراهیم عطائی لیکي:"سردارداود خان پر نابلده لار روان سو". دا نوهغه وخت دی چي داود خان غواړي د شوروي څخه ځان لیري کړي. خدای دي بیچاره ولس او هیواد ته خیر ور په برخه کړي، شاه ظاهر جهانیانو ته خپل د کاکا زوی او اخښی سردار محمد داود خان له ډېر پخوا څخه په یوه ( دیوانه مست) مست لیوني معرفي کړی وو. بیله شورویانو څخه نور جهان د سردار محمد داود خان پر خبرو اعتماد نسواي کولای. سردار محمد داود خان دعربی شیخانو

اوغرب پلوه (دولتونو) ته هغوی ټولو په خبرو کې داود خان ته وروفهمول چې عمل وکړه څه نورهم د شوروي څخه ځان را جلا او لیري کړه. خلگ وائې چې لېوني مه حواله کوی هغه خدای په خپله حواله کړی دی. سردار داود خان او د کابینې یو غړی یې په دې نه پوهېدل چې د افغانستان د حکومت لیری والی د هغه وخت له شوروي دولت څخه د حکومت د سقوط په معنا سره وو. سردارداود امریکا، غرب، پاکستان او شیخانو په لوی لاس داسي کار ته ودراوه چې سر یې پکښې ولاړی.

د پښتو ژبې دا متل هم پرځای دی چې وائي:" د لیوني څخه یې مه غواړئ او مه یې ورکوی". د افغانستان د فوځ ټول تخنیک، هوایي او زمیني، جنگي، تخنیکي وسایل سردار محمد داود خان په خپله روسي کړي وه. د سالنگ لویه لاره، د کورجوړولو فابریکه، د جنگلک فابریکه، د بلخ د ولایت لوی فابریکې، کود و برق، تفحصات، ټولي نساجي گاني، گلبهار، په کندوز کي سپین زر شرکت ، د بگرام هوایي اډه، د شبرغان گاز، د جلال اباد فارمونه د کندهاره ترهرات او تورغونډ ي سړکونه، تورغونډې، حیرتان، شیرخان بندرونه، د هیواد اقتصاد او پوځ په شوروي پوري هم خپله سردار محمد داود او ورورئې محمد نعیم خان تړلی وو. ډېر پاخه ډاکتران، انجینران مو د شوروي فارغان وه. یوازي په کابل کي هغه هم داردو په برخه کي: دحربې پوهنتون ټول تعمیرونه، دتخنیکي اکادمي، پولیتخنیک، تخنیکومونه او تعمیروجوړونه، داردود مرکزي ترمیم خانی جوړونه، چې د شوروي په اشاره د وخت چکوسلواکیا په عصري ډول او لوړ مصرف جوره کړل. څلور سوه(۴۰۰ )بسترعصري شفاخانه د اردو لپاره، د هغه وخت عصری کورونه مکروریان داسي ویل کیدل چې د دموکراسي په لسو کلونوکي اضافه ترلسوزر(۱۰ )زرومیلیونه آمریکائي ډالره مرسته د وخت شوروي کړې ده، حتی آمریکایي منابع لا د دې مرستو رقم (۱۲۵۰ )میلیون ښیي. یو پر دربیم ه برخه د افسرانو په شوروي کي زده کړي کړي وې. او دا هم روښانه ده چې ښه لایق شاگردان خارج ته د تحصیل له پاره استول کیدل. او دا هم طبعي ده چې د جهان لیدنه، د کتاب لوستنه، د خارجي هیوادونو د محصلینو سره تماسونه، د نظرو تبادله، پر هر انسان بیا دا سي ځوان چې د یوې شاته پاته ټولني څخه هلته ورغلی وي اثرکوي.

دا درې واړه د کاکا زامنو په خاصه توگه ( سردار محمد داود خان او سردار محمد نعیم خان) ټول تصامیم په ارگ کښي دننه (کور کي) نیول بیا یې پیاده کول. په خفگان سره سرداري کورنۍ یوازي له خپلو محمد زایانو سره مینه لرل نورو هیواد والو ته یې په ښه سترگه نه کتل او سپک یې استعمالول، د سردار محمد داود او سردار محمد نعیم خان پلار عبدالعزیز خان هم له همدغه سببه

ووژل سو چي بيله محمدزايانو د نورو مليتونو او قومونو سړو ته يې په سپکه کتل. سردار محمد نعيم خان  چي کله د خارجه چاروزېر وټاکل سو، سمدستي يې کار داوو چي د خارجه چارو له وزارت څخه هغه ټول مامورين وباسي کوم چي په قوم محمد زاي نه وه. امر يې وکړ چي له مامورينو څخه يو امتحان اخلم، يو يو مامور يې ځانته ورغوښت معلومات يې تکميله ول بيا يې هغه مامورين چي محمدزاي نه وه هغوي له وزارته لېري کول. د محمد انور مفتي چي محمد زاي نه وو د امتحان ورکړي نوبت سو، وزېر ځانته ور وغوښت. سردار محمد نعيم له محمد انور مفتي څخه پوښتنه وکړه. " آيا (پيرو) را می شناسی؟ محمد انور مفتي  ورته وويل" زموږ په کوڅه کي دوه غښتلي ځوانان د( پيرو) په نامه لرو، يو (پيرو بچه ادې) او بل رنګ مال( پيرو) " کله چي سردار محمد نعيم خان د محمد انور مفتي جواب واورېدی،  ويې ويل " په جغرافيه کي دي معلومات ډير لږ دي" محمد انور مفتي سمدستي ورته وويل : "وبخښه ما فکر کاوه تاسو د خپل هيواد د فرهنګ په باب پوښتنه وکړه، که نه پوهېږم چي پيرو په جنوبي امريکا کي يو مملکت دی،  اسپانيوي اصله" محمد نعيم خان، محمد انور مفتي له کاره و ايست.د غلام حيدر "يقين" کتاب " عياران و کاکه های خراسان زمين" صفحه ۱۲۱. دوی وه چي په لوی لاس يې ځانونه او خپله واکداري د پاڼ او پړانګ ترمنځ و د رول. نورد دوی عقل دا حالت نه لېدی. سردار محمد داود خان د خپل ګوند (غورځنګ ملي) او مرکزي کميټې سره هم پټ پټاني کولې ځو په مرکزي کميټه کي د دوی تر منځ اختلافات زيات سول. سردار محمد داود خان خپل د کاکا زوی له واکه لېري کړل سوي محمد ظاهر شاه ته د خپلي مرکزي کميټې څخه په پټه (غلا) د دولت له خزانې څخه هره مياشت شل شل زره آمريکائې دالړ ايټاليا ته ور استول، دغه رنګه د ظاهرخان او کورنۍ کومي بانکي دارائی ګاني وې د هغوی ګټه، د ملکيتونه او د هغوی حاصلات يې پوره روم ته وراستول دا ټول د خپل ګوند له مشر تابه څخه په پټه. دا د ډاکتردحسن شرق خبره ده چي په خپل کتاب کي يې ليکلې ده.

پر سردار محمد داود خان باندي سره د غربي هيوادونو د فشارونو، د امريکا نه علاقه، د پاکستان لخوا ورته ښکاره تهديدونه وه، چي سر دار محمد داود خان يې له تحليل څخه عاجز کړ. بل خوا ته د شوروي ورته په يوه لاس کي کوتک او بل لاس کي(کلچه) مرستي، لځي او پټي لاس وهني، د پرچميانو او حسن شرق حرکات او تحريکات، د مذهبي، ستمي، سيکتارستي ډلو تحريکات دغه رنګه د پاکستان لخوا د اخوانيانو ټرينينګ، ملاتړ او د هيواد پر يو شمير ولسواليو باندي د هغوی حملې، د لته  د کورد ننه په دولت کي د خپلو کودتا چيانو ملګرو خفګان، د هغوی ځيني ليری والی

او مایؤسي خاصتا  بیا د پرچم لیریوالي کوم چي داودخان یې تر پاچهی رسولی وو. ورځ تر بلي داود خان نا آرامه کاوه.

 بل لورته په دولت کي د ننه د یو شمیر کړیو په لوی لاس د حکومت د بې اعتبار کولو له پاره د ولس د ګټو په خلاف کړني سر ته رسولې مثلاً: په هیواد کي د شپېرمو ټولګیو  وفاریغینو ته مشکلات( کانکور) ازموینه، په ټول افغانستان کي د غریبو کورنیو د اولادونو پر مخ د اساسي دارالمعلمینونو تړل، د واړه مجلسونه پارلمان او سنأ خوني نړول. د جزأ د قانون نافذ ول، سیاسي حزبونه ړنګول، چا ته د سیاسي فعالیت اجازه نه ورکول، پر ریاست جمهوری او یو شمیر نور چوکیو یې خپله ختِه واچول او په سلهاو نورمشکلات. سردار محمد داود چي لیوني وو نور ښه لیونی سوو. د سردار محمد داود خان دغه خپل سریو خپله کورنۍ هم ځیني ناراضه کړه.د سردارمحمد داود خان تر مرګ وروسته یوه ورځ د رورسي او امریکا د دوو جاسوسانو ترمنځ د پټو خبرو پروخت دروسي جاسوس د سوال په جواب کي امریکاي جاسوس د امریکا  د حکومت نظر د سردار محمد داود خان په باب داسي بیان کړئ: " د امریکا حکومت د داود خان د حکومت په سقوط داسي خاص خفه نه دی، داود خان یکه تازي کول او په ښکاره زموږ د موکراسي مخالف وو، قانون اساسي یې نافذ کړی په هغه کي یې ستاسي شوروي په شان یو حزبي سیستم تسجیل کړی.. .. .. په تمسخر سره یې وویل: ښه سو چي داود خان خو ئې په قتل ورساوه".

سردارمحمد داود خان کورنی او د باندنی استواره، روښانه او ثابت سیاست نه لارل، د جهاني لویو قدرتونو د اهدافو او سیاستونو ترمینځ یې ځان کله یوې خوا او بلي خواته  لیوني، لیوني کاوه، د لویو قدرتونو سره د مناسباتو په توازون ساتلو نه پوهېدی. کله به د یوه په ښه ږغ و  هغه بل ته غړمبیدی او کله معکوس. دا ځل د شوروي د مخالف لوري په یوه  ساده مسکا سره پر بل مخ سو، هغه وو چي سردارمحمد داود خان په یوه نه ترمخه پلان سوي او جوړسوي پروګرام په عاجله توګه هرات و لایت ته سفر وکړی. د لته وو چي سردارمحمد داود خان سخته لویه اشباه او تیر وتنه وکړه هیواد یې له  یوه لوی بهرني بحران سره مخامخ کړه.

ددریمه برخه پای

salamwatanam@gmail.com